# KHURASAN UNIVERSITY

Join the pace & lead the future....



# د لارښود کتاب

# 2024

## کمپیوټر ساینس پوهنځی

## ای ټي او نیټورک څانګه

0788661367- 0783707172- 0784901901
اوومه ویاله د مېوې مارکېټ ترڅنګ جلال اباد ښــــار
info@khurasan.edu.af
www.khurasan.edu.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کمپیوټر ساینس پوهنځي د ای ټي او نیټورک ډیپارټمنټ د امر پیغام!



ګرانو هېوادوالو!

خراسان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځی د ای ټي او نیټورک ډیپارټمنټ چې په هېواد کې ځوان نسل ته د اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې په ملي او نړیواله کچه د معیاري لوړو زده کړو زمینه برابره کړي.

تاسې کولای شئ د لاندې ځانګړنو په نظر کې نیولو سره د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی د خپلو لوړو زده کړو لپاره غوره کړئ:

نړیوال پېژندل شوی تحصیلي سند (ډیپلوم).

پیاوړي تجربه لرونکي، مسلکي او په کار پوه استادان.

په مسلکي زده کړو تمرکز او ټینګار.

غني او مجهز کتابتون چې محصلان ترې د خپلو لوړو زده کړو پر مهال کته پورته کولای شي.

غني او مجهز کمپیوټر لیبونه چې محصلین ترې د خپلو علمي زده کړو پر مهال ګټه اخلي.

مجهز ( Research & Invention Center ) چې محصلین ترې د خپلو علمي زده کړو پر مهال ګټه اخلي.

ارام، خوندي او مسلکي چاپیریال چې د تدریس او تفریح لپاره پکې اسانتیاوې شتون لري.

د بهرنیو پوهنتونونو د ګډو مرستو تړونونه او توامیتونه چې موږ کولای شو د ګډو علمي او تحقیقاتي پروګرامونو سربیره خپلو استادانو او محصلینو ته په بهرنیو پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دوکتورا زمینه هم برابره کړو.

د نوې ټیکنالوژۍ پر مټ نړیوالو پوهنتونونو سره د عملي اړیکو ټینګول، تر څو د نویو علمي پرمختګونو سره یو ځای حرکت وکړو.

د پیاوړي تجربه لرونکي او منظمې اداري شتون چې پر بنسټ یې خپلو محصلانو ته ښې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

اسلامي، ملي او کلتورې ارزښتونو ته بشپړ درناوی او پاملرنه:

ټول هغه ځوانان چې غواړي لوړې زده کړې وکړي، کولای شي زموږ ښوونیز مرکز ته مراجعه وکړی، دوې به زموږ او د نورو لوړو زده کړو مؤسسو ترمنځ ښکاره توپیر په خپلو سترګوووینئ او هغه څه چې د دوې په ذهنونو کې دي په حقیقت بدل شي.

خراسان پوهنتون کې ستاسې د لا پرمختګ او بریالیتوب په هیله

یاداغا جان
اي ټي او نیټورک ډیپارټمنټ امر




# د خراسان پوهنتون لنډه پېژندنه

خراسان پوهنتون په ۱۳۸۶ لمریز کال کې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د محترم ریاست مقام حکم په اساس یوازې د اقتصاد پوهنځي د جواز په اخیستو سره د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په درېمه ناحیه کې پدې موخه رسماً خپل فعالیت پیل کړ چې په هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي، ملي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې د پر مختللو تخصصي معیاري لوړو زده کړو زمینه برابره کړي. د هغه وخت د لوړو زده کړو مؤسسې په توګه، دې پوهنتون له خپل تاسیس څخه بیا تر ننه پورې د وطن د بچیانو د رضایت په جلبولو سره د ملاحظې وړ پراختیا او پرمختګ کړی او اوس مهال پکې د اقتصاد، انجینری، کمپیوتر ساینس، بشری علومو او د کاروباري اداري د ماسترۍ برنامه، د فاینانس، منجمنت، سیول، سافت ویر انجینرینګ او نیټ ورکینګ، ژورنالیزم او انګلیسي ژبې ادبیاتو دیپارتمنتونه شتون لري چې زرګونه محصلان پکې په لوړو زده کړو بوخت دي او تدریسي چارې ئې په ملي او نړیوالو معیارونو د پیاوړو کورنیو او بهرنیو استادانو له خوا پرمخ بیول کیږي.

خراسان پوهنتون تر دې دمه په نوموړو رشتو کې په سلګونو فارغ علمی – مسلکي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي چې همدا اوس عملاً د هیواد په داخل او خارج کې بشریت ته د خدمت لپاره خپلې خولې تویوي.

دا چې خراسان پوهنتون د لوړو زده کړو محترم وزارت د ټولو لایحو او طرزالعملونو سره سم خپلې علمي او تحصیلي چارې مخته وړي نو د هغه وزارت دیوې دقیقې او هر اړخیزې ارزونې وروسته ئې په ۱۳۹۲ کال د لوړو زده کړو مؤسسې څخه د پوهنتون درجې ته ارتقأ وکړه. خراسان پوهنتون د خپلو علمي – تحصیلي پروګرامونو تر څنګ بیلابیل لنډ مهاله پروګرامونه هم لري چې له ډلې ئې د محاسبې، مدیریت، معلوماتې تکنالوژۍ او انګلیسي ژبې یو کلن پروګرامونه یادولای شو. دی پوهنتون د خپل علمي کادر د تحصیلي – تخصصي سطحې د لوړولو او په مختلفو علمي، تحصیلي، تحقیقي، فرهنګي، د تجربو د تبادلې او نورو ساحو کې د همکارۍ په موخه ملي، او بین المللي، معتبرو پوهنتونونو سره اړیکې ټینګې کړي دي.

لکه د هېواد په داخل کې د ننګرهار پوهنتون، سلام پوهنتون، میرویس نیکه پوهنتون او د هېواد په بهر کې د ترکیې هېواد د اتاترک، هیتیت، کارابوک، هیکسیتیپی او بولو ابانط پوهنتونونو، د مالیزیا هېواد د پوټرا، مالیا او لینکولن پوهنتونونو، د امریکا هیواد د یلټا پوهنتون او د کاناډا هیواد د MIC انستیټیوټ. سربېره پردې خراسان پوهنتون اوس مهال د ایزرک ترون غړیتوب هم لري چې د ترکیې جمهوري دولت په مالي لګښت او د اتاترک پوهنتون په نوښت رامنځته شوی او له بیلابیلو هېوادو څخه د څلور نوي (۹۴) په شاوخوا کې پوهنتونونه ددې ترون غړیتوب لري چې موخه ئې د پوهنتونونو ترمنځ د ګډو مرستو او ښو اړیکو ټینګول دي.

خراسان پوهنتون د وسایطو پراخ پارکینګ او د محصلانو، استادانو او کارمندانو د روحي تسکین پخاطر یو سرسبزه زړه راښکونکی چاپیریال، لوې جومات او مناسب سپورتي میدان لري چې وخت ناوخت پکې د هېواد په سطح سپورتي سیالۍ ترسره کیږي.

ددې لپاره چې د پوهنتون ټولې چارې د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو او رهنمودونو او د پوهنتون د امکاناتو سره سم مخته ولاړې شي نو خراسان پوهنتون خپل فعالیتونه د پنځه کلونو ستراتیژیکو پلانونو په چوکاټ کې تنظیموي او د تدریسي بهیر د پیاوړتیا ترڅنګ فزیکي تحصیلي زیربنا، علمي چاپیریال، اکادمیکې اړیکې، د محصلانو جذب، اداري اصلاحات، تضمین کیفیت او ځان ارزونه، د علمي کادر ظرفیت لوړونه، دعایداتي منابعو زیاتوالي، د فساد پرووړاندې مبارزه، جندر او نورې ډیرې برخې په برکې نیسي.

خراسان پوهنتون د تدریسي، څیړنیزو او اکادمیکو چارو د ښه سمون او اجرأ پخاطر علمي شورا لري چې په ترکیب کې ئې د پوهنتون رئیس د رئیس په توګه، مرستیال یا مرستیالان، د پوهنځیو رئیسان، له هر پوهنځي څخه دوه تنه استادان، د ماسترۍ برنامې آمر، د خارجي اړیکو رئیس، د پوهنتون د تضمین کیفیت آمر او د تحقیقاتو مرکز آمر یې د غړو په توګه حضور لري او د ټولو پوهنتوني چارو رهبري یې تر غاړې ده. سربیره پردې د چارو د ښې، مؤثرې او په موقع اجرأ لپاره پوهنتون د تضمین کیفیت، تحقیقاتو، کریکولم، امتحاناتو، فرهنګي، چاپیریال ساتنې، ستراتیژیک پلان جوړونې، نظم او دسپلین، برېښنائي زده کړو، تقرر او انفکاک او علمي ترفیعاتو کمیټې هم لري تر څو باوري کړي چې د پوهنتون ټولې علمي او اکادمیکې چارې په معیاري توګه پرمخ ځي. د ادارې جوړښت په راس کې د پوهنتون رئیس، علمي چارو، د محصلانو چارو او مالي او اداري چارو مرستیالان قرار لري چې د ادارې او رهبرۍ میتودئې ګروپي دی.










## د خراسان پوهنتون لرلید (Vision)

خراسان پوهنتون ټولنې ته د خدمت په ترڅ کې په پام کې لري چې په ملي سطح په زده کړې، څیړنې او تتبع کې یو د مخکښو پوهنتونونو څخه وي.

## د خراسان پوهنتون ماموریت (Mission)

خراسان پوهنتون د نړیوالو معیارونو سره سم غواړي چې د بیلابیلو څانګو، علمي څیړنو، تل پاتې ودې، پرمختللې تکنالوژۍ، د منل شوو علمي او درسي میتودونو په واسطه د علم په ورکړې سره ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي لرلید (Vision):

د عصري او نوي تکنالوژۍ په برخه کې وړ علمي او مسلکي کادرونه، چې په ملي او نړیواله کچه په خپل مسلک کې سیال وي تر څو له فارغت وروسته په دولتي، خصوصي او نړیوالو ادارو کې ورسپارل شوې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړي.

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي ماموریت (Mission):

د عصري او نوي تکنالوژۍ کې داسې بیاوړي علمي او مسلکي کادرونه وروزي، چې ټولنیز او اخلاقي وجایب پیژندلو سره په خپل کاري ټیم کې د مسایلو د حل، تصمیم نیونې، مفاهیمو او په عملي چارو کې د ونډې اخیستنې پوره وړتیا ولري، تر څو د تکنالوژۍ پر مټ د ټولنې شته ستونزې حل او درک کړي.

# کمپیوټر ساینس پوهنځی ای ټي او نیټورک څانګه

د کمپیوټر ساینس پوهنځی ای ټي او نیټورک څانګې تاریخچه: کمپیوټر ساینس پوهنځی ۱۳۹۰ لمریز کال د پوهنتون د رهبرۍ لخوا یې جواز تر لاسه کړ، چې موخه یې ځوان نسل ته د اسلامي ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې، په ملي او نړیواله کچه معیاري لوړو زده کړو لپاره زمینه برابرول دي. کمپیوټر ساینس پوهنځي یو ډیپارتمینټ (معلوماتي ټکنالوژی او نیټورکینګ لري. تر دی دمه یې شپاړلس دورې محصلین فارغ ورکړي، چې د فارغانو شمیر یې شاوخوا زرو تنو ته رسیږي او اوس مهال په کی له زرو تنو څخه زیات محصلین په زده کړو بوخت دي.

**اوسنی حالت**:

د کمپیوټر ساینس پوهنځي دوه ډیپارټمنتونه (اي ټي او نیټورک – سافټ ویر انجینرنګ) لري، چې محصلین پکې خپلې لوړې زده کړې کوي د تدریس چارې د کورنیو او بهرنیو مجربو استادانو لخوا چې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري، پر مخ بیول کیږي.

د پوهنځی علمی او اداری چاری د پوهنځي د رئیس، د ډیپارتمنت د آمر تدریسي مدیر، کمپیوټر کار او علمی کادر غړو پواسطه سرته رسیږي. تحصیلي اسناد یې د موجوده لایحو او معیارونو سره عیار دي. سربیره پر دې کمپیوټر ساینس پوهنځي د ننګرهار پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي سره ښې اړیکې لري. کمپیوټر ساینس پوهنځي د پوهنتون په کچه علمي او اداری برخو تر څنګ د څیړنی مرکزهم لري.










**د ای ټي او نیټورک څانګې لرلید (Vision) :**

د اي ټي او نيټورک ديپارتمنت غواړي وړ علمي او مسلکي کادرونه وروزي، تر څو له نورې نړۍ سره د اي ټي او نيټورک په برخه کې سيال شي.

**د ای ټي او نیټورک څانګې ماموریت (Mission):**

دآي اټي او نيټ ورک ډيپارتمنټ په خپله ساحه کی په ملي او نړيواله سطحه کې داسې پياوړي مسلکي او وړ علمي کادرونه د نوی عصر او ټکنالوژۍ په برخه کې وروزي، تر څو په خپله برخه کې د مسايلو د حل، تصميم نيونې، مفاهمې او په علمي او تحقيقي چارو کې د ونډې اخيستنې پوره وړتيا ولري.


**د کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګې موخې (اهداف) :**

- په علمي او تخنيکي برخو کې د علمي کارونو لپاره انکشافي پروګرامونه جوړول.
- د استادانو د شمېر او علمي کچې لوړول.
- د موجوده استادانو لپاره د دوکتورا برنامې زمينه برابرول.
- د هيواد په داخل او خارج کې د استادانو او محصلينو د علمي سويې لوړونې په خاطر د سمينارونو، ورکشاپونو، کنفرانسونو، او نورو څېړنيزو پروګرامونو برابرول.
- په دوامداره ډول خپل علمي پروګرامونه او کريکولم پياوړي کول.
- په هيواد کې د ای ټی او نيټ ورک ډيپارمينټ په توګه د پوهنځي اعتبار ساتل او په دومداره توګه د خپلو فعاليتونو څخه څارنه او د شته ستونزو له منځه وړل.

## اصلي ارزښتونه: Core Values


داصلی ارزښتونه د علمی برنامو، د محصلینو اجتماعی پروګرامونو او فعالیتونو لپاره بنسټ برابروی. چی دا اصلی ارزښتونه د سیول څانګی د ماموریت ملاتړ کوي.

- دڅانګې دلیدلوري او ماموریت ملاتړ کول.
- د محصلینو او مربوطه افرادو په ضرورتونو تمرکز کول.
- د وخت سره د ټولنې او مارکیت بدلیدونکو غوښتنو ته ځواب ویل.
- د مسلکی نرمې رویې او ښه چلند په وسیله د څانګی پیاوړی کول.
- د کارکوونکو او محصلینو ونډه پیژندل او ملاتړیی کول.
- د محصلینو او علمی کادرونو د نوآوری او کوششونو ستاینه.
- محصلین وهڅول شي چی د ټولنی ګټور او برخه اخیستو کی وګړی شي.









- **د فزیکي زیربیناوو تاسیسول**:
  - د کنفرانسونو، د نویو محصلینو د ښه راغلاست غونډو لپاره د تالار جوړول .
  - د امتحاناتو د اخیستلو دپاره د یو مناسب هال جوړول .
  - د عملي زده کړو دپاره محصلینو ته د مجهز لیب جوړول .
  - د پروګرامنګ په برخه کی د سافټ وئیر هاوس جوړول .
  - د پوهنځي په کچه د شنې ساحې برابرول .
- د محصلینو د مدني، علمي، فرهنګي او سپورتي فعالیتونو په موخه ټولنې جوړول.

**په لاندې توګه د ټولنو د جوړول دپاره زمینه مساعدول**:

- د ښه نظم او دسپلین دپاره د استادانو او محصلینو یوه ګډه کمیټه جوړول .
- د اخیري سمستر د پروژې د کتلو دپاره د یو ځانګړې کمیټې ایجاد .
- د محصلینو د ساعت تیرۍ دپاره د ورزشی میلو برابرول.
- د ټولنې د کلتور او فرهنګ سره د محصلینو د بلدتیا په خاطر د فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو پرلاراچول .
- د استادانو، محصلینو او اداری غړو ترمنځ د وروروولۍ ډاډمنه فضا رامنځته کول.
- د محصیل د ښې روزنې په خاطر د استاد او محصل ترمنځ د اړیکو زمینه برابرول.
- د وروروولۍ فضاء درامنځته کولو دپاره د په ګډه د سفرونو برابرول .

- د پوهنځي او څانګې په فعالیتونو کې دمحصیلینو ونډه اخیستنه .
- د محصلینو او استادانو ترمنځ د ورزشي مسابقو برابرول
- داسې علمي چاپیریال رامنځته کول په کوم کې چې استاد او محصل د ټکنالوژۍ او نویو میتودونو په کارولو د زده کړې ، تدریس تحقیق او نوښت په موخه سره ګډ کار و کړي.
- د څیړنیزو مرکزونو ایجاد
- د څیړنیزو مرکزونو دپاره د دريې تنه ماسټر استادانو لرل
- د استادانو دپاره د نویو میتودونو څخه د استفادی لارښوونه کول
- محصل ته د درسي ساعت څخه اضافه وخت ورکول
- نړیوالو ژورنالونو ته لاسرسي برابرول
- د نړیوالو څیړنیزو مرکزونو سره اړیکې او د هغوی د مرستې جلبول
- د کمپیوټر ساینس پوهنځی ، اي ټي او نیټورک څانګې او د نورو پوهنځیوهڅونه چې خپلی


څیړنیزی پروژی د کمپیوټر ساینس پوهنځي په څیړنیز مرکز کې په ګډ تفاهم سره ترسره کړي.
























**په ای ټي او نیټورک څانګه کې د تحصیل اجوره:**

د خراسان پوهنتون د علمي شورا لخوا د تحصیلي اجورې اندازه د پوهنځیو په توپیر په لاندې ډول تصویب شوې ده:

دکمپیوټر ساینس پوهنځي د څلور کلنې تحصیلي دورې اجوره( ۲۴۰۰۰۰) افغانۍ ده.

که چیرې نوموړې مبلغ ټول یوځای تادیه شي نو محصل ته (۱۰ سلنه) تخفیف ورکول کیږي.

او که په دوو قسطونو کې تادیه شي (۵ سلنه) تخفیف، که په څلور قسطونو کې یې تادیه (۳ سلنه) تخفیف او د شپږو قسطونو په تادیې سره محصل د (۲ سلنې) تخفیف مستحق ګرځي، خو که پورتنی مبلغ په ۴۸ قسطونو کې تادیه د تحصیل اجوره ترې پوره اخیستل کیږي.

**دکمپیوټر ساینس پوهنځي تحصیلي نظام معرفي:**

د کریډیټ سیستم اوسمهال د نړۍ په ډېریو هېوادونو کې د یوه پرمختللي او اغېزمن سیستم په توګه منل شوی. په هېواد کې د لوړو زده کړو وزارت سیستم د بیا رغونې او د نړۍ د بېلا بېلو پوهنتونو تر مینځ د اکاډمیکو اړیکو پراخوالې ته په پام سره، دې ته اړتیا لیدل کېږي چې دا سیستم په بریالیتوب سره پلی شي او د تطبیق په وړاندې یې خنډونه له مینځه ولاړ شي .د دې سیستم له پلي کولو څخه بنستیزه موخه داده، چې د زده کړندوی ونډه او فعالیت د زده کړې په بهیر کې پرمختللی او پیاوړی شي او په هېواد کې د لوړو زده کړو وزارت سیستم د نړیوالو میعیارونو سره همغږی شي؛ ځکه چې دا سیستم انعطاف منونکی دی او زده کړندوی ته ډېر فرصتونه او غوره اسانتیاوې برابروي. پدې سیستم کې ډېر وخت سپمېږي او زیار کښنو زده کړندویانو ته د چټک پرمختګ زمینه چمتوکېږي. پدې سیستم کې د استادانو فعالیت هم ډېر هدفمند کېږي چې د زده کړندویانو په علمي او عملي پیاوړتیا اغېز لري.

## کریډیټ امتیاز/اعتبار

کریډیټ یو درسي واحد دی چې پر بنسټ یې د تحصیلي دورې نصاب د سمسترونو او هر مضمون ونډې ته په پام سره ټاکل کېږي. یو کریډیټ۱۶درسي ساعته دی چې معادل یې یو سمستر کېږي.

**اساسي بنسټیز مضمونونه**:

هغو مضمونونو ته ویل کېږي چې د هغوې زده کړه اصلي څانګې ته د داخلېدو لپاره لازمي دي چې د ځانګړو معلوماتو بنسټ جوړوي.

**تخصصي مضمونونه**:

دهغې څانګې مضمونونو ته ویل کېږي چې د هغې څانګې لپاره د تعویض وړ نه دي. په ځینو پوهنتونونو کې دا مضمونونه د څانګې اصلي مضمونونه ګڼل کېږي.

**اختیاري مضمونونه**:

هغو مضمونونو ته ویل کېږي چې زده کړندوی له څو انتخابونو څخه یو ټاکي چې د ده له رشتې سره تړاو ولري او د پوهنځي لخوا د ده په تحصیلي برنامه کې ځای پر ځای شوی وي. ددې مضمونونو ټاکنه د ډیپارټمینټ واک کې دی چې د پوهنځي د علمي شورا تر تائیدئ وروسته ټاکل کېږي.





**پوهنتون شموله مضمونونه**:

دا هغه مضمونونه دي چې د لوړو زده کړو وزارت په ټولو پوهنځیو کې تدریس کېږي اسلامي ثقافت، معاصر تاریخ ، بهرنۍ ژبې ،چاپېریال ساتنه، کمپیوتر او په غیر مسلکي پوهنځیو کې د بدني روزنې مضمون اختیاري انتخابېږي.

**د رمز شمېره**:

له عددونو او تورو څخه جوړه شوي نښانه ده چې د هر مضمون د پېژندګلوۍ او د پوهنځي له دیپار ټمینټ سره د تړاو او ټاکلي مضون لپاره کارول کېږي.

هر تحصیلي کال دوه سمستره دی او هر سمستر له ازموینو پر ته ۱۶ درسي ساعته دی هر ساعت ۵۰ دقیقې دي او یا په اوونۍ کې ۵۰ دقیقه یو ساعت دی. دوه ساعته پروګرامینګ او یا لیب او یا یو ساعت عملي کار د یوه درسي ساعت سره معادل محاسبه کېږي. اساسي، تخصصي، اختیاري، پوهنتون شموله مضمونونه، د کریډیټ تعداد، کود نمبر ، د پایلیک ډول لکه مونو ګراف، ډیپلوم او سیمینار په تعلیمي پلان کې ځای پر ځای کېږي.

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي تحصیلي نصاب په ټوله کې (۱۴۹) کریدته تدریس کیږي چې له هغې جملې څخه (۴۶) کریدته اساسي (۱۷) کریدته پوهنتون شمول او (۷۲)کریدته اختصاصي او (۱۴) کریدته دي او محصل باید د څلور کالو په جریان کې نوموړي کریدتونه پوره کړي وي تر څو فارغ التحصیل وګڼل شي.

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګې کریکولم:

| Semester-I | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
| 1 | CS111 | Information & Communication Technology | 3 | 3 | 0 | اساسی | None |
| 2 | CS112 | Computer Application-I | 2 | 0 | 2 | اساسی | None |
| 3 | MT111 | Calculus & Linear Algebra | 3 | 3 | 0 | اساسی | None |
| 4 | CS113 | Programming fundamentals-I | 3 | 1 | 0 | اساسی | None |
| 5 | EG111 | English Comprehension | 2 | 2 | 0 | عمومی | None |
| 6 | HS111 | Modern History of Afghanistan | 3 | 3 | 0 | عمومی | None |
| 7 | IS111 | Islamic Studies-I | 1 | 1 | 0 | عمومی | None |
| | | Total | 17 | | | | |

| Semester-II | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
| 1 | CS121 | Programming Fundamentals-II | 3 | 2 | 1 | اساسی | CS113 |
| 2 | CS122 | Computer Application-II | 2 | 0 | 2 | اساسی | CS112 |
| 3 | CS123 | Data Communication & Networks | 3 | 2 | 1 | اساسی | CS111 |
| 4 | CS124 | Digital & Logic Design | 3 | 2 | 1 | اساسی | CS111, MT111 |
| 5 | CS125 | Web Programming-I | 3 | 2 | 1 | اختصاصي | CS111 |
| 6 | EG121 | Technical and Business Writing | 2 | 2 | 0 | عمومی | EG111 |
| 7 | IS121 | Islamic Studies-II | 1 | 1 | 0 | عمومی | IS111 |
| | | Total | 18 | | | | |

| Semester-III | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
| 1 | CS211 | Database Management System | 3 | 3 | 0 | اساسي | CS111 |
| 2 | CS212 | Object Oriented Programming | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS122 |
| 3 | CS213 | Web Programming-II | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS125 |
| 4 | CS214 | Operating System Concepts | 3 | 3 | 0 | اساسي | CS111 |
| 5 | EG211 | Communication Skills | 2 | 2 | 0 | عمومي | EG121 |
| 6 | IS211 | Islamic Studies-III | 1 | 1 | 0 | عمومي | IS121 |
| | | Total | 17 | | | | |

| Semester-IV | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
| 1 | CS221 | Discrete Structures | 3 | 3 | 0 | اساسي | MT111 |
| 2 | CS222 | Modern Programming language (Java)-I | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS212 |
| 3 | SE221 | Software Engineering | 4 | 4 | 0 | اساسي | CS111 |
| 4 | CS223 | Database Management System-II | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS211 |
| 5 | PH221 | Circuit Theory | 3 | 2 | 1 | اساسي | None |
| 6 | IS221 | Islamic studies-IV | 1 | 1 | 0 | عمومي | IS211 |
| | | Total | 19 | | | | |

## Semester-V

| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | CS311 | System Design & Architecture | 4 | 3 | 1 | اختصاصي | CS124 |
| 2 | CS312 | Modern Programming language (Java)-II | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS222 |
| 3 | CS313 | System and Network Administration-I | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS123 |
| 4 | CS314 | Cloud Computing | 4 | 4 | 0 | اختصاصي | CS123 |
| 6 | IS311 | Islamic Studies-V | 1 | 1 | 0 | عمومی | IS221 |
| | | Total | 17 | | | | |

## Semester-VI

| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | CS321 | Artificial Intelligence | 4 | 3 | 1 | اختصاصي | CS111 |
| 2 | | Elective-I | 4 | | | اختیاري / اختصاصي | |
| 3 | CS322 | Visual Programming-I | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS212 |
| 4 | ST321 | Statistics and Probability | 3 | 3 | 0 | پروژه و روش تحقیق | MT111 |
| 5 | CS323 | Data Structure & Algorithms | 4 | 3 | 1 | اختصاصي | CS214 |
| 6 | IS321 | Islamic Studies-VI | 1 | 1 | 0 | عمومی | IS311 |
| | | Total | 20 | | | | |

## Semester-VII

| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | CS411 | Visual Programming-II | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS311 |
| 2 | CS412 | Analysis of Algorithms | 4 | 4 | 0 | اساسی | CS323 |
| 3 | | Elective-II | 4 | | | اختیاري / اختصاصي | |
| 4 | CS413 | Research Methods | 3 | 3 | 0 | پروژه و روش تحقیق | ST321, CS221 |
| 5 | | Project/Seminar | 4 | | | پروژه و روش تحقیق | |
| 6 | IS411 | Islamic studies-VII | 1 | 1 | 0 | عمومی | IS321 |
| | | Total | 20 | | | | |

## Semester-VIII

| S.No | Course Code | Subject Name | Credit Hrs | Theory | Practical | Subject Type | Prerequisites |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | CS411 | System and Network Administration-II | 4 | 2 | 2 | اختصاصي | CS211 |
| | CS412 | Theory of Computation | 4 | 3 | 1 | اساسی | CS412 |
| 2 | | Elective-III | 4 | | | اختیاري / اختصاصي | |
| 3 | | Elective-IV | 4 | | | اختیاري / اختصاصي | |
| 4 | | Project | 4 | | | پروژه و روش تحقیق | |
| 5 | IS421 | Islamic studies-VIII | 1 | 1 | 0 | عمومی | IS411 |
| | | Total | 21 | | | | |

| Elective Subjects | | | | اختياري مضامين | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **S.No** | **Course Code** | **Subject Name** | **Credit Hrs** | **Theory** | **Practical** | **Subject Type** | **Prerequisites** |
| 1 | CSE51 | Network Protocols | 4 | 2 | 2 | اختياري / اختصاصي | CS211 |
| 2 | CSE52 | Data & Network Security | 4 | 3 | 1 | اختياري / اختصاصي | CS211 |
| 3 | CSE53 | Wireless Networks | 4 | 3 | 1 | اختياري / اختصاصي | CS211 |
| 4 | CSE54 | Distributed Database | 4 | 3 | 1 | اختياري/ اختصاصي | CS312 |
| 5 | CSE55 | Telecommunication System | 4 | 3 | 1 | اختياري/ اختصاصي | CS211 |
| 6 | CSE56 | Information System | 4 | 3 | 1 | اختياري/ اختصاصي | CS221 |
| 7 | CSE57 | Database Administration | 4 | 2 | 2 | اختياري/ اختصاصي | CS223 |
| 8 | CSE58 | Mobile Application Development | 4 | 2 | 2 | اختياري/ اختصاصي | CS321 |
| 9 | SE411 | Software Project Management | 4 | 2 | 2 | اختياري/ اختصاصي | SE221 |
| 10 | SE312 | Advance Software Engineering | 4 | 3 | 1 | اختياري/ اختصاصي | SE221 |

## د کمپیوټر ساینس پوهنځی د IT & Networks دیپارټمنټ د کریډیټونو ویش

| ګڼه | د مضمون نوعیت | د کریډیټ شمیر | د کریډیټ فیصدی |
|---|---|---|---|
| ۱ | اساسي مضمونونه | ۴۶ | ٪ ۳۰ |
| ۲ | عمومي مضمونه | ۱۷ | ٪ ۱۲ |
| ۳ | اختصاصي مضمونونه | ۷۲ | ٪ ۵۰ |
| ۴ | پروژه و روش تحقیق | ۱۴ | ٪ ۸ |
| ۵ | مجموعه | ۱۴۹ | ٪ ۱۰۰ |

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګې بشري سرچینې :

کمپیوټر ساینس پوهنځی ای ټي او نیټورک څانګه دوکتورا او ماسټرۍ علمي کادر غړي لري چې دې علمي کادر غړو په مختلفو هېوادونو کې د دکتورا او ماسټرۍ تحصیلي سندونه تر لاسه کړي دي. کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګه ( Research & Invention Center ) لري چې د ای ټي او نیټورک څانګې پورې مربوطه ده په دغه څانګه کې مختلف پروګرامونه لکه: څېړنه، سافټویر جوړونه او د ارډینو پروژې محصلینو ته د علمي کار په موخه ترسره کېږي.



نوم: یاد اغا
تخلص: جان
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لېسانس
دنده: د ډیپارټمنټ امر



نوم: نصرا لله
تخلص: کشمیر خان
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماسټر
دنده: د پوهنځي رئیس



نوم: نجاد
تخلص: احمد
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماسټر
دنده: استاد



نوم: ارشد
تخلص: مومند
رشته: کمپیوټرساینس
درجه: ماسټر
دنده: استاد



نوم: پامیر
تخلص: شمس
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: دوکتور
دنده: استاد



نوم: خیبر خان
تخلص: همدرد
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماسټر
دنده: استاد



نوم: محبوب الله
تخلص: منتظر
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: دوکتور
دنده: استاد



نوم: حبیب الله
تخلص: صافی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماسټر
دنده: استاد



نوم: عطاءالحق
تخلص: هلال
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: استاد



نوم: محمد انورالدین
تخلص: شرفزی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماسټر
دنده: استاد



نوم: وحید الله
تخلص: شینواری
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لېسانس
دنده: استاد



نوم: سهیل
تخلص: ساحل
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لېسانس
دنده: استاد

# د کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګې اداري کارمندان:



نوم: رسول خان
تخلص: ظاهري
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: ای ټي او نیټورک مدیر



نوم: روح الله
تخلص: پوپلزی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: تدریسي مدیر



نوم: خان محمد
تخلص: .
رشته: انجینري
درجه: لیسانس
دنده: کمپیوټر کار



نوم: سفیر
تخلص: خان
رشته: .
درجه: متعلیم
دنده: خدماتي کارمند